هاشم مهمند

۲۰۲۱/۰۱/۱۷

# د لیبرالیزم او نشنلیزم جدال

*د پخواني شوروي اتحاد سقوط، په امریکا او اروپا کې د لیبرالو دیموکراسیو یو مهم بریالیتوب وګڼل شو او دا فکر چه لیبرالیزم (Liberalism) یوه تلپاتې ایدیولوژي ده ډیر قوت وموند. لیبرالانو فکر کاوه چه نشنلیزم (Nationalism) نور یوه پوچ شوی او مصرف شوی ایدیولوژي ده او کله به هم په یو ګواښ بدله نه شي. په تیرو ۲۵ کولنو کې چه د لیبرالیزم طلایي کلونه وه د آزاد بازار، جهاني کیدو او د ملي سرحداتو له منځه وړل او نور د لیبرال سیاستونو مهمې برخې وې. خو د دې سیاستونو په وړاندې په امریکا او اروپا کې د نشنلزم پلویانو مخالفت هم دوام درلود. کله چه دونالډ ترمپ په امریکا کې جمهور ریس وټاکل شو، د دوو «ایزمونو» تر منځ جدال او مبارزه نور هم شدت و موند. دونالډ ترمپ چه ځان ته د نشنلست خطاب کوي ټولو هغو لیبرالو سیاستونو ته چه بارک اوباما او تر هغه مخکې واکمنانو پلې کړې وه د پای ټکی کښیښود.*

*په دې مقاله کې د نشنلست څخه مراد هغه کسان دي چه خپل اولس، ملي سرحداتو او ملی هویت ته ژمن دي او د نشنلیزم تورو اړخونو ته پاملرنه نه ده شوې. د دې دوو ایدیولوژیو تر منځ د توپیر او اختلاف د روښانه کولو د پاره د امریکا د شیکاګو پوهنتون د سیاسی علومو د پروفیسر جان جې میرس هایمر ( Professor John J. Mearsheimer) یوې څیرنیزې مقالې څخه چه د امریکا د سیاسي علومو د ټولنې لخوا خپره شوې استفاده شوې ده.*

*ه. مهمند*

د یوویشتمې پیړی له پیل راهیسې په اروپا او امریکا کې د هغو خلکو په شمېر کې چه د امریکا د متحده ایالتونو او د اروپایي اتحادیې د غړو هیوادونو پر موسساتو او حاکمو طبقو باندې یې خپل اعتماد او باور له لاسه ورکړی دی د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. دغه ناراضه بنی اړخه دلې چه ځانونه د اولس حقیقي استازې بولي په اروپایي هیوادونو کې خپل سیاسي ګوندونه تاسیس کړې چه په عامه توګه د پاپولیستي(Populist) ګوندونو په نامه یادیږي. (پاپولست هغه چا یا سیاستوال ته ویل کیږي چه هڅه کوي د عامو خلکو ترمنځ داسې ذهنیت خپور کړي چه ګواکې حاکمې دلې د دوی ستونزو او اندیښنو ته پاملرنه نه لري او باید له واکه لیرې کړل شي).

د دوی مبارزه د حاکمې طبقې یا استبلشمنت پر ضد ده، چه دوی یې د اولس څخه جلا یا د اولس د ګټو ضد بولي. کله چه د امریکا د ۲۰۱۶ میلادي کال په انتخاباتوکې دونالډ ترمپ د امریکا جمهور ریس و ټاکل شو، نه یواځې په



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

امریکا بلکه په اروپایي هېوادونو لکه جرمني، فرانسه، اطریش، ایتالیا، هنګري او نورو کې پاپولستي یا نشنلستي ډلې نورې هم پیاوړې شوې او د دې هېوادونو لیبرال ملي دولتونه یې د تهدید سره مخامخ کړل.

ښاغلي ټرمپ د ۲۰۱۷ م کال د جنورۍ میاشتې په وینا کې چه د جمهوري ریاست د لوړې په مراسمو کې یې وکړه وویل:

«د نن مراسم یوه ډېره خاصه معنی لري، ځکه نن موږ یواځې واک له یوې ادارې بلې ادارې ته، یا له یوه ګوند څخه بل ګوند ته نه انتقالوو، بلکه موږ واک له واشنګټن ډي سي څخه بېرته تاسو یعنې اولس ته انتقالوو.»

دې پوښتنې ته چه د دغو پاپولیستي یا نشنلستي ډلو تمایز یا اختلاف د حاکمې طبقې سره ولې په ډېرو هېوادونو کې پراخ انعکاس موندلی او زیات افراطي نشنلستان یې جلب کړي دي، د لانکستر او ویانا د پوهنتونونو استاده روت ووداک (Ruth Wodak) لیکي:

«د دې ډلو د غصې او قهر علت هغه سیاستونه دي چه دوی یې له پایلو څخه بېره لري. همدا شان دا د هغو نارضایتیو او مایوسی په وړاندې یو عکس العمل دی چه د دوی په فکر دولتونو د سرمایه دارو ټولنو په جهاني شویو سیاستونو کې ورځ تر بلې د مساوات اصل له پامه غورځولی دی.»

د اعتماد او باور دغه بحران په یقیني توګه د هغو لویو جهاني او اروپایي بحرانونو په نتیجه کې نور مهم شدت وموند، چه تر ۲۰۰۸ م کال وروسته منځ ته راغلل لکه اقتصادي بحران، د «ایرو-Euro» د حوزې بحران، د پناه غوښتونکو بحران او د زیاتو تروریستي حملو بېره چه د اروپایي اتحادیې په غړو هېوادونو او د دې اتحادیې په موسساتو کې یې د سیاسي سیستمونو ستونزې رابرسېره کړې او د خلکو د نارضایتۍ او بې باورۍ سبب شول.

پروفیسره ووداک لیکي:

«پر سیاست بې باوره کېدل نسبت دې ته چه خلک پر یوه خاص ګوند یا شخص بې باوره شي یو ډېر جدي ګواښ او تهدید دی. پر سیاسي نظام بې باوره کېدل دې ته لاره هواروي چه ښي اړخه پاپولستي ډلې او افراطي ښي اړخه سیاسي ګوندونه صحنې ته داخل شي. دوی ځانونه د اولس د نجات ملکي او د اولس د اعتماد او باور وړ بولي او ځان ته داسې یو تصویر جوړوي چه ګواکې د اولس حقیقي استازي دوی دي او ټول نور ګوندونه او سیاسي کړۍ ناکامه اوبې کاره ډلې ټپلې دي.»

پاپولستي یا افراطي نشنلستان تل هڅه کوي چه په ټولنه کې د ناخوالو د ګناه بار پر اقلیتونو او د ټولنې پر کمزورو ډلو لکه پر یهودانو، مسلمانانو، مهاجرو او یا روما ګانو یعنې جتانو او کله هم پر سرمایه دارانو، سوسیالستانو، مخکښو ښځو، حاکمو ګوندونو او مطبوعاتو او رسنیو اچوي. دوی دا اقلیتونه د نژاد، دین او ژبې پر اساس بهرنیان او بېګانه بولي.

درې لسیزې وړاندې کله چې د سړې جګړې دوران پای ته ورسېد نو په امریکا کې عمومي نظر داو چه لیبرالیزم د متحده ایالاتو ایدیولوژي ده او دا به تلپاتې وي. هغه وخت نشنلیزم ته د یوې پوچ شوي او مصرف شوي ځواک په سترګه کتل کېدل. په ۱۹۸۹ م کال کې فرانسیس ُفوکو یاما خپلې مشهورې مقالې ته «د تاریخ پای» سرلیک ورکړ. خو


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

دا وړاندوینه نه یواځې په متحده ایالتونو بلکه په نورو لیبرال دیموکراسیو کې هم ناسمه راووته. نن په لویدیځ کې لیبرالیزم له ستونزو سره مخامخ او نشنلزم بیا د پرمختګ په حال کې دی.

د شیکاګو په پوهنتون کې د سیاسی علومو استاد پروفیسر جان میرس هایمر لیکي:

«د لیبرالیزم او نشنلزم په جدال او مقابله کې نشنلیزم تقریباً هر وار بریالی کیږي، ځکه په معاصره نړۍ کې تر ټولو پیاوړې سیاسي ایدیولوژي ده.»

د امریکا د جمهوري ریاست د۲۰۱۶ م کال په انتخاباتو کې د ښاغلي ټرمپ بریالیتوب او په همغه کال په برتانیا کې له اروپایي اتحادیې څخه د دې هېواد د وتلو رفراندوم (بریکزیت) په حقیقت کې د لیبرالیزم او نشنلزم د موجود جدال نتیجه وه چه په دواړو هېوادونو کې له دوه زرم میلادي کال راهیسې روانه وه او د ۲۰۱۶ کال راهیسې دا جدال نور هم شدت وموند.

پروفیسرمیرس هایمرد نشنلزم او لیبرالیزم د توپیر، منځپانګې او د دې دوو ایزمونو د یو پر بل د متقابلو تاثیراتو په اړه لیکي.

**لیبرالیزم- (Liberalism):**

«لیبرالیزم فردیت ته لومړیتوب ورکوي، په دې معنی چه انسانان ټول آزاد دي چه په رضاکارانه توګه د یو اجتماعي قرارداد پر اساس یو ځای شوي دي. همدا شان لیبرالیزم داسې انګیرې چه انسانان که له یوې خوا د فکر او قوي استدلال خاوندان دي خو له بلې خوا په خپل منځ کې د لومړنیو اصولو پر سراختلاف پیدا کوي او کله بیا همدغه اختلافات دومره حاد شي چه خلک هغه کسان چه ورسره مخالف دي له منځه وړي او وژني یې. لهذا نو داسې سیاسي نظام باید منځ ته راشي چه هم نظم وساتي او هم فردي اختلافاتو او د خلکو عقایدوته درناوی ولري او د اختلافاتود زیاتېدو، چه کله کله په بالقوه توګه ټولنه له لویو خطرونو سره مخامخ کوي، مخنیوی وکړي.»

پوفیسر میرس هایمر وړاندې د دې ستونزو د حل لپاره په لیبرال نظام کې د سیاست درې برخو ته اشاره کوي چه لومړۍ برخه یې د انسانانو انکار نه کېدونکي طبعي حقوق دي. په دې معنی چه ټول انسانان د زیږېدولو له ورځې له یو لړ حقوقو څخه برخمن دي چه د هغو پر اساس حق لري خپل ژوند د هغو اصولو پر بنیاد چه باور پرې لري پر مخ بوځي.

دوهمه برخه د زغم یا تحمل اصل دی. په دې معنی چه فرد حق لري ځان ته داسې ژوند غوره کړي چه غواړي یې او هم د هغو کسانو ژوند ته درناوی وکړي چه دی ورسره په سیاسي او اجتماعي مهمو مسلو کې د نظر اختلاف لري. یعنې «هم ته ژوند وکړه او هم نور ژوند کولو ته پرېږده.»

د لیبرال سیاست دریم اصل د داسې یو پیاوړي دولت منځ ته راوړل دي چه وشي کولای د ټولنې غړي یو له بله خوندي وساتي او د دوی حقوق تضمین کړي، اما دا دولت باید دومره قدرت هم و نه لري چه د وګړو پر یادو حقوقو تېری وکولای شي اویا هغه تر پښو لاندې کړي.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

د لیبرالیزم برعکس د نشنلیزم د مفکورې پر اساس انسانان اساساً اجتماعي موجودات دي، که څه هم کولای شي د خپل فردي ژوند لپاره خپل ځانګړی ځای ولري. انسانان په اجتماعاتو کې زیږي او په همدې ټولنیزو ډلو کې کار او فعالیت کوي چه همدا ټولنې د دوی هویت جوړوي او همدې ټولنو ته وفاداره پاته کیږي. د اجتماعي ډلې عالیترینه مرحله په معاصره نړۍ کې ملت یا نیشن (Nation) دی.

### نشنلیزم (Nationalism):

اکثره انسانان له خپل ملت سره ژورې اړیکې لري خو دا په دې معنی نه ده چه له نورو اجتماعي ډلو لکه کورنۍ سره د ژورو اړیکو له ساتلو څخه بې برخې شي.

له لیبرالیزم سره د نشنلیزم د اړیکود پوهېدلو د پاره د نشنلیزم دغه څلور ځانګړي خصوصیات ډېر مهم دي.

لومړی په یو ملت کې د هغه ټول غړي د یووالي احساس لري، یعنې د ملت تقریباً ټول غړي دا پیاوړی احساس لري چه د یوې لویې ټولنې غړي دي. باید یادونه وشي چه د یو ملت د غړو ترمنځ ښایي په اقتصادي او اجتماعي لحاظ لوی توپیرونه موجود وي. همدا شان ښایي د حاکمې طبقې او د عامو خلکو ترمنځ لوی توپیرونه موجود وي، خو اساسي مسله دا ده چه د خلکو ترمنځ یوه مشترکه او پیاوړې اړیکه موجوده ده.

هر ملت خپل ځانګړی کلچر یا فرهنګ لري، یعنې داسې ګډ عقاید، سلوک او کردار لري چه د ټولو وګړو ترمنځ مشترک وي او همدا اولس له نورو اولسونو څخه جلا کوي. د همدې مشترکاتو له کبله ده چه یو اولس ته تر نورو اولسونو د لوړتیا احساس ورکوي.

د عراق او سعودي عربستان اولسونه په عربي ژبې خبرې کوي. د هسپانیې او ایتالیا د اولسونو لوی اکثریت کاتولیک مسیحیان دي. خو د دوی کلچر او فرهنګونه یو له بله توپیر لري.

د نشنلیزم بل خصوصیت د خاورې یا منطقې د تقدس فکر دی. ملتونه له خپلې خاورې یا جغرافیې سره نه جلاکېدونکې خاصه او ژوره اړیکه لري او خپله سیمه یا جغرافیه خپل وطن بولي. دغه سیمه یا وطن د ملت د هویت یوه نه جلاکیدونکې برخه ده. د خاورې یا جغرافیې میراثي ارزښت، د خاورې د سرحداتو ساتنه چه اولس د هغه په دننه کې ژوند کوي او د پولو ټاکل او په نخښه کول د یو اولس لپاره ډېر زیات اهمیت لري. همدا سرحدات مرسته کوي چه ملي دولت د بهرني اشغال، نامطلوبو مهاجرتونو او د بهرني ناوړه نفوذ او مداخلو په وړاندې وساتل شي.

او وروستی خصوصیت د ملي حاکمیت مسئله ده چه ډېره مهمه ګڼل کیږي. ملتونه هڅه کوي پر خپل سیاسي برخلیک یا سرنوشت بشپړ کنټرول ولري او خپل مقدرات په خپله وټاکي. په دې معنی چه ملتونه تل څارنه کوي چه سیاسي قدرت  د خپل ملي دولت په چوکاټ کې او هم د نورو ملي دولتونو په وړاندې تنظیم شي.

په نړیواله سویه حاکمیت په دې معنی ده چه یو ملي دولت غواړي او هڅه کوي چه په خپلو کورنیو چارو او بهرني سیاست کې د بهرنیو هیوادونو له لاسوهنو او مداخلو څخه په امان وي او مخنیوی یې وکړي.

د پروفیسر میرس هایمر په باور، لیبرالیزم او نشنلیزم په څرګنده توګه دوې متفاوته او متمایزه ایدیولوژیګانې دي. لیبرالیزم پر خپل اصلي منځپانګه چه فردیت دی تاکید کوي او د خپل ماهیت له مخې د ټولنې د افرادو پر لایتجزا او نه


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

سلب کېدونکو حقوقو ټينګار کوي او په دې توګه يوه جهان شموله ايډيولوژي ده. برعکس نشنلزم نسبت فرد ته ټولنې ته اهميت ورکوي او په ټوله کې يوه خاصه او ځانګړې ايډيولوژي ده. دا دوه ايزمونه په ځينو برخو کې يو له بله همږغي او سازګاري لري. خو په ليبراليزم کې د هغه د کثرت ګرايي يا پلورالستي اړخ، په اولس کې د ملي هويت او ملي پوستون احساس ضعيفه کوي.

د ليبرالانو دا ټينګار چه ټول انسانان د بشري ټولنې غړي دي او د ګډو اقتصادي ګټو په خاطر د يو جهاني قدرت له رامنځ ته کېدو څخه ملاتړ(د مثال په توګه د اروپايي ټولنې رامنځ ته کېدل) او وګړو ته يې د جهاني وګړي هويت ورکول د نشنليزم له ايديولوژی سره په تضاد کې دی.

په ټولنه کې د ملي پيوستون ضعيفه کېدل ډېر مهم دی ځکه نشنليزم د سريښ په شان د ټولنې ټولې برخې يو له بل سره موښلوي. نشنليزم پر يووالي او اولس ته پر وفاداری د ټينګار له لارې په ټولنه کې حتی هغه کسان چه په ځينو مسئلو کې يو له بله ژور اختلاف لري، اتحاد ته رابولي او يو ځای کوي يې.

د پروفيسر ميرس هايمر په باور نشنليزم د درې دلايلو له مخې تر ليبراليزم پياوړی دی؛

لمړی- نشنليزم د انسان له طبيعت سره موافق او همږغی دی. انسانان له لومړي سره اجتماعي موجودات دي. موږ ټول په اجتماعي ډلو کې زېږو، لويېږو او ټولنه مو ساتنه کوي. په ټولنه کې مشترک کلچر له دې سره مرسته کوي چه خلک له يو بل سره په آسانی او موثره توګه راکړه ورکړه او همکاري وکړي.

دوهم- ليبراليزم په يواځې سر نه شي کولای په يو دولت کې د خلکو ترمنځ رامنځ ته شوې ستونزې او اختلافات چه د دولت دايمي وظيفه ده حل کړي او د اولس يووالی تامين کړي. د داسې ستونزو لپاره د ليبرال دولت د حل لاره د زغم تشويقول او د داسې دولت منځ ته راوړل دي چه وشي کولای نظم تامين او د وګړو د حقوقو ساتنه وکړي.

دا چلند البته چه ګټور دی، خو کافي نه دی چه وشي کولای په ټولنه کې د افرادو تر منځ ولاړو شويو ستونزو او اختلافاتو ته د پای ټکی کېښېږدي. په لنډ ډول، ليبراليزم نشنليزم ته اړتيا لري خو نشنليزم ليبراليزم ته اړتيا نه لری.

دريم- نشنليزم، د ليبراليزم برعکس، د اولس مهمو احساساتي نيازونو اوغوښتنو ته ځواب وايي. نشنليزم خلکو ته داسې پياوړی احساس ورکوي چه دوی د يوې خاصې او ځانګړې ټولنې غړي دي چه تاريخ يې د مهمو عنعناتو او رواجونو، د سرلوړو شخصيتونود درلودلو او لويو لاسته راوړنو او پېښنو ډک دی. په دې توګه نشنليزم د دين په شان تېره زمانه له حال او راتلونکې سره موښلوي او خلکو ته د يوه لرغوني او بډای فرهنګ د درلودلو احساس ورکوي.

د نشنليزم د منطق له مخې هغه څه چه د ټول اولس په ګټه وي د ټولنې د هر فرد په ګټه هم وي، خو فرديت په اولس کې د يووالي حس چه د نشنلستي ايديولوژی منځپانګه جوړوي له منځه وړي. ځکه فرد د يو ځان غوښتونکي موجود په توګه يواځې د خپلو ګټو او امتيازاتو په فکر کې وي.

له بلې خوا د جهاني کېدو(يونيورسليزم-Universalism) مفکوره چه د ليبراليزم غايه ده د نشنليزم له مفکورې سره په تضاد کې ده.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

د دې مفکورې پر اساس د ټولې نړۍ انسانان مساوي حقوق لري او باید مساویانه چلند ورسره وشي. خو نشنلستان د دې مفکورې ضد دي ځکه  د دوی په فکر فرد د یوې خاصې ټولنې غړی دی، چه ځان ته لرغونی تاریخ او بډای فرهنګ لري.

په هر حال لیبرالیزم او نشنلیزم کولای شي په ټولنه کې یو د بل تر څنګ ژوند وکړي، خو که لیبرالیزم تر حد زیات قوت ومومي نو دا یقیني ده چه له نشنلستي مقاومت سره مخامخ کېږي، چه دا به په لنډ مهال کې لیبرالیزم له جدي ستونزو سره مخامخ کړي. خو په عین زمان کې د دې دوو ایدیولوژیو د یو پربل له متقابلو اغیزو څخه هم انکار نه شي کېدلای. په دې معنی چه د لیبرالي ایدیولوژۍ پیروانان د نشنلستي احساساتو تر اغېز لاندې وي او برعکس یې هم همداسې دی.

د مثال په توګه د امریکا د بهرنیو چارو پخوانی وزیرې میډلاین آلبرایت چه لیبرالیزم ته یوه ډېره متعهده مېرمن وه، په ۱۹۹۸م کال کې دې پوښتنې ته په ځواب کې چه ولې متحده ایالات د عراق پرضد له پوځي زور څخه کار اخلي وویل :

«که موږ د زوره کار اخلو په دې خاطر دی چه موږ امریکا یو او یو اجتناب ناپذیره ولس یو. موږ سیده ولاړ یو او تر نورو هېوادونو وړاندې راتلونکې ته ګورو او  هغه خطرونه وینو چه موږ ټول له ګواښنه سره مخامخ کوي.»

په دې خبرو کې دا د امریکا اولس ته اشاره کوي چه د نشنلیزم ایدیولوژۍ اساسي فکراو مهمه هسته ده. همدا شان په اروپایي اتحادیه کې چه تر ټولو لویه لیبراله موسسه ده د نشنلیزم اغېز وجود لري. که تاسو د دې اتحادیې د غړو هېوادونو له اوسېدونکو څخه  د دوی د هویت په اړه پوښتنه وکړئ، یوازې ینځه په سلو کې خپل هویت اروپایي معرفي کوي. پاتې ۹۵ په سلو کې ځان د هغه هېواد ملیت بولي چه دوی یې غړي دي. یعنې جرمنی ځان جرمن او فرانسوی ځان فرانسوي درپېژني نه اروپایي.

په همدې توګه نشنلستان هم د لیبرال فکر تر اغېز لاندې خپل دریځ بدلوي. ښه مثال یې د امریکا پخوانی ولسمشر رونالډ ریګن او د برتانیې پخوانی صدراعظمه مارګرت تیچر ده چه دواړه نشنلستان وه او له سرې جګړې نه وروسته دوره کې یې یو لړ لیبرالو سیاستونو ته مخه کړه. د دواړو اقتصادي سیاست چه د نوي لیبرال سیاست په نامه یادېږي د فردیت د تقویې اود آزاد او  غیرمحدود بازار څخه د ملاتړ پر مفکورو را څرخېده اود پیاوړې دولت د رول د ضعیفه کېدوغوښتنه یې کوله. ریګن ویل دولت د ستونزو د حل وسیله نه ده. دولت په خپله ستونزه ده. موږ باید بازارونو ته لاره ومومو.

مېرمن تیچر  هم په ۱۹۸۷م کال کې په یوه مرکه تر ټولنې د فرد پر رول ټینګار وکړ. دې زیاته کړه:

«ډېر خلک کله چه له ستونزې سره مخامخ شي، فکر کوي چه دا د حکومت وظیفه ده چه د دوی ستونزې حل کړي. دوی د خپلو ستونزو ګناه پر ټولنې اچوي، خو تاسو پوهېږئ چه د ټولنې په نامه کوم شی نه شته بلکه یوازې نارینه، ښځې او د دوی کورنی وجود لري او همدا خلک دي چه په لومړي ګام کې باید په خپله خپلې ستونزې حل کړي.»

پر فردیت یا انډیویډولیزم (Individualism) ټینګار چه د لیبرالي ایدیولوژۍ مرکزي فکر دی افراد دې ته تشویقوي چه خپلې ګټې زیاتې کړي او د بل چا د رفاه او سوکالۍ په فکر کې دې نه وي. دا فکر چه د فرد دا ډول د


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

خودخواهي ډک چلند په حقيقت کې د ټولي ټولني په ګټه ده د فرد د ځان غوښتني احساس برحق بولي. خو دا ډول تفکر او عمل له دې فکر سره چه افراد د يوې لويي ټولني غړي دي او يو له بله پياوړي اجتماعي اړيکي لري په تضاد کې دی او دا ډول افراطي فرديت غوښتنه د ملي پيوستون او د يووالي احساس ته چه نشنليزم يې پلوي کوي د زهرو په معنی ده.

د ليبراليزم د مفکورې يو بله ځرګنده نخښه يونيورسليزم يا جهاني کېدل دي. دا فکر د مهاجرت، پناه غوښتونکو او سرحداتو په اړه د حاکمي طبقي چلند روښانه کوي. د ليبرالانو په باور انسانان ټول د يوې جهاني ټولني غړي دي. همدا فکر باعث شوی دی چه امريکا ته د مهاجرت د مخنيوي د پاره حدود نه دي ټاکل شوي.

د مهاجرينو او پناه غوښتونکو په وړاندې د يوه پياوړي دولت موجوديت او د خاورې د ساتني لپاره د ټينګو سرحداتو درلودل د ليبرالانو د قدرت په وخت کې د امريکايي نشنلستانو تر سخت انتقاد لاندې وه. د ليبرالانو د دې فکر يو ښه مثال په ليبراله اروپايي اتحاديه کې د شينګن موافقي له مخې د غړو هېوادونو تر منځ د سرحداتو له منځه وړل وو. هغه وخت د اروپايي کميسيون ريس وويل «د سرحدونو ټاکل تر ټولو خرابه اختراع ده.» دا چلند په مستقيمه توګه د نشنلستانو د ملي هويت فکر ته يو ګواښ ګڼل کېږي.

ليبرالانو د نشنليزم د تضعيفولو په چارو کې د خپل نوي اقتصادي نظم په چوکاټ کې مرسته وکړه چه يوه پياوړې فراملي يا ترانس نشنل حاکمه طبقه منځ ته راوړي، چه غړي يې د هېواد تر اصلي اوسېدونکو يو له بله ډېر مشترکات لري او په حقيقت کې د ډېرو اصلي اوسېدونکو اقتصادي ګټو ته زيان رسوي، چه دغه ترکيب په حقيقت کې د نشنليزم پر زړه د خنجر ګوزار دی . په دې ډول جهاني شوي چلند کې له ټولي نړۍ څخه خاصي روزل شوې ډلي په بېلابېلو برخو لکه تجارت، علمي تحقيقات، مطبوعاتو او سياست کې يو له بله همکاري کوي.

دغه ډلي خپل ملي هويت ساتي خو په عين وخت کې يو جهاني يا ماورای ملي هويت هم خپلوي. دوی ټول په انګرېزي ژبه خبرې کوي، يو زيات شمېر يې له عين مکتب څخه فارغ شوي دي، عين ورځپاڼي لولي او نوي ليبرال سياستونو ته متعهده دي. خو دغه نوی هويت غرب کې د دغه ډلو او عادي اوسېدونکو ترمنځ لويه فاصله رامنځته کړه او طبيعي ده چه ملت يې کمزوری کړ.

د برتانيي پخوانی صدراعظمي مارګرت تيچر د نوي جهاني هويت درلودونکو ته په اشاره وويل:

«که تاسو په رشتيا په دې باور ياست چه تاسي د نړۍ تبعه ياست نو بايد ووايم چه تاسي د هيڅ ځای تابعيت هم نه لرئ. تاسو اصلاً نه پوهېږئ چه تابيعت څه معنی.»

د سرې جګړې تر پای وروسته په لومړنيو ۲۵ کلونو کې بې سرحده ليبراليزم د امريکا د سياستونو يوه ډېره مهمه برخه وه، خو ليبرالانو او د دوی خاصو ډلو فکر نه کاوه چه نشنليزم به نور په امريکا او نورو ليبرالو ديموکراسيو کې د دوی لپاره ګواښ وي، که څه هم تر ۲۰۱۵ ميلادي کال وروسته په اروپا کې د نشنلستي ګوندونو قوت مځ په زياتېدو و. په ۲۰۱۶ م کال کې وضعيت بدل شو.

**د نشنليزم نوی ظهور:**


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

دوو پېښنو د لیبرالانو قدرت له ګواښ سره مخامخ کړ. په برتانیا کې له اروپایي ټولنې څخه د وتلو یا بریګزیت بریالی رفراندم او د امریکا په انتخاباتو کې د ډونالډ ټرمپ بریالیتوب.

د دې پېښنو اهمیت په دې کې دی چه دا لویې پېښې په دوو پیاوړو او لیبرال دیموکراسیو کې رامنځ ته شوې. دا حالت په دواړو هېوادونو کې د نشنلیزم د بیا پیاوړي کېدو نتیجه وه. په بل عبارت دا د لیبرالیزم او نشنلیزم د هغه جدال نتیجه وه چه لږ تر لږه د ۲۰۰۰ م کال راپدې خوا په دغو هېوادونو کې په غیرمحسوسه توګه دوام درلود. په دې معنی چه نشنلیزم د لیبرالانو د اقتدار په طلایي کلونو کې له منځه نه و تللی، که څه هم د دوو ایزمونو تر منځ انډول د لیبرالیزم په ګټه و.

د نشنلیزم څرګندې نښې د پخوانی چکسلواکیا، شوروي اتحاد او یوګوسلاویا په وېشلو کې ولیدل شوې چه په دې هېوادونو کې ملي ډلو هر یو د خپل ملي دولت جوړولو لپاره هلې ځلې وکړې. همدا شان په هسپانیا کې د کاتلونیا نهضت یا په برتانیا کې سکاټلنډیان چه غواړي خپل ملي دولتونه ولري.

که څه هم نشنلیزم د لیبرالانو د اقتدار په کلونو کې له منځه نه ولاړ خو نشنلستان تر سخت فشار لاندې راغلل. د دوو ایزمونو په مقابله کې د امریکا نشنلستان بیا بریالي شول. د امریکا په انتخاباتو کې د ډونالډ ټرمپ د بریالي کېدو دپاره بېلابېل دلایل شته ، خو مهم علت دا و چه دی په انتخاباتو کې د یو نشنلست په توګه د هغو دیموکراتانو او جمهوري پلویو په وړاندې ودرېد چه د غیرمحدود لیبرالیزم پلویان وه.

**ډونالډ ټرمپ او د نشنلیزم انتقام:**

په انتخاباتو کې د ډونالډ ټرمپ بری په څرګنده توګه د لامحدوده لیبرالیزم پر ضد د نشنلستانو سخت غبرګون و او لیبرالان یې پر شا وتنبول. د ۲۰۱۷ م کال په فبروری میاشت کې ډونالډ ټرمپ ځان ته د یوه بشپړ نشنلست خطاب وکړ. یو کال وروسته یې خبریالانو ته وویل:

«زه یو مطلق نشنلست یم او پر دې ویاړم.» ټرمپ په خپله وینا کې چه د خپلې لوړې په مراسمو کې یې وکړه، ټینګار وکړ چه متحده ایالات یو واحد ملت دی.

ده زیاته کړه:

«د ډېرې مودې لپاره یوې کوچنۍ ډلې د دولت واک او امتیاز په انحصار کې درلود او اولس یې تاوان ورکاوه. دې حاکمې ډلې یا ایستبلشمنت هر څه د ځان د ساتنې لپاره کول او د اولس په غم کې نه و. دا وضعیت به پس له دې تغییر ومومي.»

ټرمپ همدا شان په خپلو ویناوو کې د حاکمیت د اهمیت په باره کې څرګندونې وکړې چه دا د نشنلیزم د ایډیولوژۍ یوبل مهم اساس دی. ده په ملګرو ملتونو کې په خپله وینا کې د ملي حاکمیت د اصل د اهمیت په اړه وویل:

«د پیاوړو، ملي حاکمیت درلودونکو او خپلواکو اولسونو په غیر، بل بدیل نه شته.»

ده له لومړي سره تاکید کاوه چه د ده لپاره د امریکا ګټې لومړیتوب لري. هغه د امریکا د پخواني مشرانو په شان هیڅکله هم د نړیوالې ټولنې د اهمیت او فضیلت ستاینه ونه کړه.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

ښاغلي ټرمپ د ۲۰۱۹ م کال په سپتمبر میاشت کې په خپله وینا کې چه په ملګرو ملتونو کې یې وکړه وویل:

«دا ډېره ښه ده چه په نړۍ کې بېلابېل خپلواک دولتونه شته، چه هر یو یې لکه زما د ګران هېواد په شان خپل ویاړلی تاریخ ، فرهنګ او میراثونه لري او د هغو تجلیل او ساتنه کوي. آزاده نړۍ باید د دې ملي بنسټونو ملاتړ او ساتنه وکړي او هیڅکله هڅه ونه کړي چه دا بنسټونه له منځه یوسي او یا یې پر ځای نوي بنسټونه منځ ته راوړي. هوښیار مشران تل د خپل هېواد او اولس په فکر کې وي. راتلونکی به د جهاني غوښتونکو په لاس کې نه وي بلکه د وطنپرستو خلکو په لاس کې به وي.»

د امریکا د ولسمشرۍ د ۲۰۲۰م کال په انتخاباتو کې د ډیموکرات ګوند کاندید جو بایډن بریا د لیبرالیزم او نشنلیزم تر منځ موجود جدال په یو سیاسي لوی بحران بدل کړ.

ښاغلی ټرمپ او د ده پلویان بې له دې چه کره اسناد او شواهد وړاندې کړي، ادعا کوي چه په انتخاباتو کې درغلي شوې ده اود انتخاباتو نتیجه نه مني.

د ۲۰۲۱م کال د جنوری میاشتي پر شپږمه د ښاغلي ټرامپ یو شمېر قهرجن پلویان حتی په زور د کانګرس ودانۍ ته ننوتل چه په جریان کې یې د یوه پولیس په شمول پنځه کسان ووژل شول.

ښاغلي ټرمپ ته په دې انتخاباتو کې ۷۵ میلیونو امریکایانو رایه ورکړې ده چه یو د پام وړ شمېر دی. دا شمېر کسان په لوړه انګېزه د ښاغلي ټرمپ تر شا ولاړ او حاضر دي خپلو اعتراضونو ته دوام ورکړي.

په کانګرس کې د ډیموکرات او جمهوري غوښتونکو ګوندونو غړو دا پېښه د امریکا پر اساسي قانون او ډیموکراسۍ یو برید وباله او د ښاغلي ټرمپ د محاکمې او په فوري توګه له واک څخه د لیرې کېدو غوښتنه وکړه. د ځینو څارونکو په فکر دا کار به ښایي بحران نور هم تشدید کړي.

په هر حال په ټوله نړۍ کې حکومتونه او اولسونه په امریکا کې د روان سیاسي بحران څارنه کوي او عواقبو ته یې اندېښمن دي.

دا چه د جو بایډن اداره به د دې بحران په حل او د امریکا په ټولنه کې د یووالي د بیا ټینګېدو او پخلاینې په هلو ځلو کې څومره بریالی شي، دا به راتلونکي وښیي. خو د اوس لپاره د امریکا ټولنه په بېسارې توګه وېشل شوې او ناآرامه ده.



هاشم مهمند


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com